# د پښتو فوکلوري شاعرۍ د صنفونو عمومي ډلبندي او نوې تخليقي هڅې

**Categorization of Pashto Folk Poetic Generes, and Creative Endeavores**

محمد سالم کاکړ*

**Abstract:**

Pashto folk tradition caters to a spectrum of folk geners, as the geography is wide and inhabited by diverse settlements, which are directly connected though their pastoral economy, therefore the range of folk forms of poetry and prose are evolved. This arcticle tends to focus the variety of folkloric genres of Zhob valley, one of the most fertile vallies of Pashtuns which created dozens of different generes. The paper also disscus different trends that are observed in the wake of postmodern era challenges. How these generes are created and practiced, is the main question this paper intends to probe in.

**Key Words**:Folk Generes ,Pashtunwali, Cultural Zones, Poetics, Moderinity

**۱. د پښتو شفاهي روايت ته عمومي کتنه:**

لکه څنګه چې په نړۍ کښې هر قام يا ټولنه خپل قامي شفاهي روايتونه لري او د شفاهي روايت له مخې د قامونو تاريخي پس منظر شتون موندلی دی . قامونو او د قامونو ژبو ژوند ورسره پراختيا تر لاسه کړې دغسې پښتنو هم شفاهي روايت خپل کړی دی او د خپل تاريخ، ژبې،کلتور،جغرافيه او سميه ايز آثار يې د فولکلور يا شفاهي روايت له لارې ژوندي ساتلي دي . د پښتنو د تاريخ څرکونه يا تاريخي آثار چې موندل شوي دي هم نو د دغه فولکلوري کيسو يا شاعرۍ له لارې يې تر لاسه کړي دي . دا چې فولکلوري کيسې او شاعري د قامونو واقعات خوندي ساتې او بيا د نن په نوې نړۍ کښې له هغو زړو فولکلوري روايتونو څخه په نوي شکل کښې د نوي څېړنې سره ورته والی ورکړل شوی دی . او تاريخونه ترې ليکل شوي دي .

يعنې د پښتنو تاريخي فولکلوري روايتونه ثابتوي چې پښتانه په زرګونو کلونو تاريخ لري او د دې په اړه پښتانه يوه ټپه لري چې د حالاتو او سميه ايز موسمې يا جغرافيايي موقعيت ښکاره کوي او څېړونکې وايي چې دا ټپه زرونو کاله وړاندې ويل شوې ده .

دا ټپه د پښتنو يا آرينو د سيمې ثبوت ورکوي او دا چې په پښتو ليکلې ده نو دا يې د ژبې ثبوت ورکوي چې پښتانه آرين دي او د موجوده افغانستان ځايي خلګ دي .

* M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Qeutta

,,سپوږمیه سر وهه راخېژه
یار مې د ګڼلو لَو کوي ګوتې رېبینه،،(۱)

دلته د دې ټپې په حقله لیکوالان وایي چې د آریایانو په سیمه کښې د یو قسم بوټی وو چې یو خاص غوندې ګل یې درلودی او د دې ګل رېبل یا لَو په د شپوږمۍ و واهي ته کېدلو ولې چې دا ګل به په ورځ نه وو ښکاره او په سپوږمۍ کښې ښکاره کېدلی . او بیا به یې یو خاص قسم مشروب ځنې جوړول .

همدغه رنګه د پښتنو د تاریخي واقعاتو روایت هم په فولکلور کښې ښه څرګندونه شوې ده . هغه د خالو د لښکرو ذکر دی چې یوه ټپه ورباندې هغه وخت ویلې شوې ده . یعني د خالو کردار د محمود غزنوي په زمانه کښې د یو ښه جنګیالي په نوم شهرت لري . نو ځکه یې ذکر په فولکلور کښې هم خوندي پاتې شوی دی او له دې ټپې اورېدلو سره د خالو د جنګیالیتوب او مېړانې کیسې په ذهنو کې راوګرځي . د خالو دغه تاریخي کردار بیا څېړونکیو په تاریخي حواله هم ثابت کړی دی ولې چې د دې څرک یې هم له فولکلور څخه اخیستی دی او بیا پرمختګ کړی دی . د ټپې بېلګه :

,,که د خالو لښکري راغلې
زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه،،(۲)

**پښتنې سیمو کلتوري ساحې** :

د نړۍ د نورو قامونو په څېر پښتانه هم یو پراخ او د لوی آبادۍ قام دی . پښتانه د معلوم تاریخ له لاري پنځه زره کلن تاریخ لري چې دوی په تاریخي لحاظ د باختر،بلخ،سلیمان،پکتیا ،آراکوزیا تر سیند دریاب پوري یا موجوده افغانستان او نیم د پاکستان په پښتونخوا ،بلوچستان(سوهېلي پښتونخوا) سیمو کښې مېشته دي چې د یوې اندازې له مخې یې انساني ابادي تقریباً پنځه کروړه ده .

د پښتنو دغه پراخ وطن په خپل ګاونډ کښې هم تاریخي قامونه لري . او د خپلې دغې پراختیا له کبله د پښتنو ژبه پښتو بېلابېل لهجوي توپیرونه هم لري او ورسره کلتوري توپیرونه لري . د دغو کلتوري توپیرونو له وجې یې کلتورې ساحې یا مرکزونه هم په تاریخي توګه منځ ته راغلي دي . دا چې د پښتنو جغرافیه ډېره پراخه ده د دوی ژوند بېلابېلې برخې لري ، یعني پښتانه تر اسلام وړاندې خپل یو تهذیب درلودلی دی ، او د ژوند د کړو وړو په مخته وړلو کښې هم د خپلې جغرافیایي پراختیا له وجې سیمه ایز توپیرونه لري . یعني پښتنو کوچیانه ، کروندګر،مالدار او کارباري ژوند کړی دی .

د دوی د ژوند بېلابېلو اړخونو او د دوی د مځکې پراختیا بېلابېلې کلتوري ساحې مخته راوړي دي او دغه ساحې د معاشي،مځکنې،سیمه ایزشتون،او د ژبې لهجوي توپیرونو له وجې په وجود کښې راغلې دي . په عامه توګه په ادبي لحاظ د پښتو ادب او ژبې څلور مرزکونه یا ساحې وجود لري . هغه

څلور ادبي یا کلتوري مرکزونه د کوم قبیلوي بېلتون پر بنیاد نه دي جوړې شوې بلکې د روایت، کلتور، لهجوي او معاشي هلو ځلو پر بنا منځ ته راغلي دي . لکه کابل یو مرکز دی، پېښور او شاوخوا بل مرکز، ورسره کندهار، کوټه بیا تر ښېښن خانوزیې پوري بل مرکز دی .له دې پرته څلورم مرکز له کاڼ مهترزیي څخه بیا ترګومل پورې بل مرکز بللای شو. له دې سره سره فاټا یا منځنۍ پښتونخوا یو بېل ځان ته د مرکز حیثیت لري ، او په دې منځ کښې بني ګل، کرک، لکي مروت او شاوخوا نژدې سیمي هم جلا ساحه ګڼلای شو، خو دلته په سوهېلي پښتونخوا کښې هم سیوۍ، هرنایي، سنځاوۍ او غوڅکۍ (زیارت) بیا بېل حیثیت لري.

دلته دا پورتنۍ ساحې څکه موږ ذکر کوو چې د دوی تر منځ کلتوري بېلوالی موجود دی او په هر مرکز کښې چې قوم قبایل یا پښتانه شتون لري نو د هغوئ معاشي او کلتوري برخې په دننه کښې سره یو شی دي نو ځکه چې کومې سیمې په معاشي هلوځلو یا کلتوري توګه سره یو شانتې وي هغې ته موږ یو جلا مرکز ویلای دی. خو ولې د کابل او پېښور لهجه که څه هم یوسفزۍ لهجه ده خو تر منځ یې معاشي هلې ځلې یو بل سره توپیرنه لري او د کلتور پر بنیاد هم یو بل سره ورته دي.

خو دغه رنګه د ژبې د لهجوي توپیر پر بنیاد که وګورو بیا موږ نور مراکز هم لیدلای شو، یعنې د کابل او پېښور لهجه یوه لهجه ده خو بیا یې د لهجې پر بنیاد یو مرکز بللای شو خو دوه یې نه شو بللای .

دلته په سوهېلي پښتوخوا کښې زیارت، سنځاوۍ، هرنایي او سیوۍ بیا بېله لهجه لري او کلتوري ډول هم سره یو شان دي . خو د ږوب مرکز او منځنۍ پښتونخوا تر منځ هم د لهجې توپیر دی . او هم دا رنګه د بني ګل او شاوخوا یادو سیمو او پېښور د لهجې هم زیات توپیر شته .

موږ په خپل تحقیق کښې له دې پورتنۍ ساحو څخه پر هغه ساحه کار کوو کوم چې د کاڼ مهترزیي له سرۍ څخه بیا هندوباغ، سیف الله کلا، بورى، دُکۍ، لوڼی ،موساخېل ،ږوب، شیراني، بیا د ګوملې تر دریابه پوري . دغه یوه کلتوري ساحه ځکه ده چې د دوی تر منځ معاشي ، کلتوري، مځکني توپیر نشته.او ودې ته موږ په سیمه ایزه لهجه کښې یوه ناوه هم ویلې ده . د دوی د قبایلو د مځکو وېش هم پر پټاو او سېرکي باندي شوی دی یعنې هره قبیله د دغې ناوې له یوه غره بیا تر بله غره (پر قطب او سهېل) مځکه لري .

**دېښتنې شفاهي روایت شعري اصناف**:

په پښتنې شفاهي روایت کښې ډېر زیات شعري اصناف وجود لرلی دی . او دا اصناف د ژبي او کلتور پراختیا هم ثابتوي ، دا اصناف ډېرى یو له بل سره لهجوي ،سیمه ایز، او قبایلي توپیرونه هم لري ، د هم دغو توپیرونه له وجې یې تعداد هم زیات شوی دی . خو که چیري لهجوي یا سیمه ایز توپیر نه شي، نوکیدای شي دا صنفونه بیا دومره زیات نه وای . او دغه صنفونه بیا په خپل منځ کښې یو بل

فرق هم سره لري هغه دا چې ښځینوو او نارینو پر بنیاد یې فرق دی . یعني نیمی صنفونه صرف د ښځینوو له خوا د خپل آه وفغان یا خوښۍ اظهار کولو د پاره وي او نیمي بیا د نارینو له خوا وي چې د وخت تېري یا لطافت د پاره منځ ته راغلي دي . د دې اولسي شعري اصنافو تر منځ یو بل فرق هم شته هغه دا چې په ځانګړي وخت او ځای باندې د ویلو د پاره وي . د مثال په ډول د اتڼ غاړې یواځې د اتڼ کولو په وخت ویل کیږي خو بل وخت نه . او بلندۍ یواځې د وخت تېري د پاره د سپینږیرو او ځوانانو له خوا ویل کیږي چې کله دوی یوبل ته د ټوقو ټقالو کار ځیني اخیستی دی او دا به یې په ترنم سره ویلې . داسي نور هم ښېلوالی سره لري .

موږ دلته د پښتو فولکور شعري اصناف په ګوته کوو چې موږ ته روښانه شي چې د پښتو فولکلور شعري اصناف څنګه دي او ورسره به یې قسمونه هم بیان کړو . په دې کښې داسي صنفونه هم شته چې په لر او بر پښتانه وطن کښې ویلي کیږي او هر ځای یې روایت موندلی دی او نیم بیا داسي ژانرونه دي چې هغه تر یوې ځانګړې سیمي یا قبیلې یا ټولنې پوري محدود پاته شوي دي او مخ ته یې وده نه ده کړې . خو نیمي بیا داسي دي هغه په ښځینه او نارینه کښې سره تقسیم دي یعنې د ښځینوو صنف نارینه نه وايي او دا روایت صرف تر ښځینوو محدود پاته شوی دی .

محمد داؤد وفا د پښتو ژبې ځوان فوکلورسټ په خپل کتاب کښې د دې شعري اصنافو برخې په لاندي ډول په عام او خاص کښې سره وېشلي دي.

"عام فولکلوري اصناف: لنډۍ یا ټپه،غاړې یا کاکړۍ،پړاکی،د مېندو سندرې،د ماشومانو سندرې،کېسۍ (اړونه)، نارې یا ږغونه،فالونه،دښادۍسندرې،بلندۍ،انګۍ سلسلې،برغازۍ،منظوم متلونه،ساندې. خاص فولکلوري اصناف چاربیته، کسرونه،مقام، بدلې،لوبې،بګتۍ، داستان"(۳)

کوم تقسیم چې محمد داؤد وفا کړی دی دایې پر دې بنیاد کړی دی چې کوم صنفونه چې شاعر یا لیکوال یې نه وي معلوم یعني د اولسي خلګو له خوا جوړ کړل شوي وي خو د چا ملکیت نه وي و دې ته یې عام فولکلوري ژانرونه وئیلي دي او کوم چې د یوه خاص سړي یا شاعر له خوا جوړ کړل شوي وي او لیکوال یې معلوم ، ملکیت یې معلوم وي خو په اولسي بڼه کښې لیکل شوي وي هغو ته یې د خاص نوم ورکړی دی .دبېلګي په ډول:

هم دغه دول محمد ډاؤد وفا په دغه اثر کښې مخته لیکي:

> "د پښتو اولسي ادب عام ژانرونه هغه دي چې ویونکې یا شاعر یې معلوم نه وي . د یوه ادبي اثر د ایجاد ځای ،شخص،حالت او څرنګوالی څرګند نه وي . دا ژانرونه د ټولو ګډ ملکیت ګڼل کیږي ،،(۴)

او ورسره یې د خاص فولکلوري ژانرونه ځانګړتیا یا ببلوالی هم بیان کړی دی چې په لاندي ډول یې بیانوي :

"خاص فولکلوریک ژانرونه د پښتنې منظوم فولکلور دویمه برخه ګڼل کیږي دا برخه ځکه خاصه یا ځانګړې ګڼو چې ویونکې یې معلوم اشخاص دي ، د دغو شاعرانو د بېلابېلو فولکلوري ژانرونو په چوکاټ کښې شاعري کړې ده" (۵)

د دغه وېش په حقله موږ د ځینو نورو لیکوالانو اندونه هم لرو، خو د لته به یواځې د ډاکټر برکت شاه کاکړ د یوې مقالې "د فوکلور څېړنې عمومي اصول" څخه دا یوه مهمه نکته د بحث لپاره مخته راوړو چې فوکلوري اصناف یې پر دوو برخو وېشلي دي. کوم فوکلوري اصنافو ته محمد داؤد وفا عام وائي، هغه نوموړي "اجتماعي فوکلوري تخلیقات" ګڼلي دي، او کومو ته چې خاص وئیل شوي دي هغۀ ته "انفرادي فوکلوري تخلیقات" وئیل شوي دي.

.البته دا تقسیم تر څه حده سم دی خو موږ په دې تقسیم کښې یوه بله برخه هم ورګډوو چې هغه برخه یې یواځې او یواځې د ښځینو اولسي شاعري ده او په یو خاص وخت یا ځای کښې تخلیهقیږي او ویل کیږي. د بېلګې په توګه د رېوب په ناوه کښې یو مخصؤص ښځینه صنف "انګی، چغیان، متلونه یا هووی" رواج لري. هره انجلۍ د خپل واده لپاره دغۀ شاعري پخپله کوي، او واده له مخه د خپل ټول ژوند یوه تنقیدي څېړنه کوي او بیا یې د خپل واده ورځ په ډېر غریو او ارمان دغه شاعري د خپلو خوندکیانو/سېپریانو/همزولو په مرسته وائي.

انګی د څلوریځې په بحر او وزن کښې جوړیږي خو موضوع یې ساتئینه هم وي، د مرثیې اثرات هم پکښې وي، د قصیدې هم او تر ټولو څرګنده اړخ یې د نرواکۍ په ضد د زنانهٔ مزاحمت هم دی.

هم دا ډول ځیني زنانه صنفونه لکه خوربنادي او الاخوري دي چې په تر تیب سره په پښېن او بوري کښې زیاتره وئیل کیږي.

د دې پورتنې نوي تقسیم پر بنیاد موږ دا صنفونه په دریو برخو کښې تقسیموو چې په لاندي ډول یې بیانوو.

۱.عام فولکلوري شعري صنفونه: لنډۍ یا ټپه،غاړې یا کاکړۍ،پړاکی،د مېندو سندري (الله هو للو)،د ماشومانو سندرې(اکو بکو)،کېسۍ (اړ)، نارې یا رېغونه،فالونه،د ښادۍ سندرې،بلندۍ،سلسلې،برغازۍ،منظوم متلونه،ساندې.

۲.**خاص فولکلوري شعري صنفونه: چاربیته،کسرونه، مقام، بدلې، لوبې**

،بګتۍ، داستان،ټپیځه،کاکړیځه، بابولاله.

۳.ښځینه فولکلوري شعري صنف: انګی / چغیان ، سولې، الاخوري او داسې نور.

دلته موږ په خپله دغه مقاله کښې دوه نوي ژانرونه ذکر کړي دي . نو ځکه یې لاژمي ګڼو چې د هغوی تعریف یا جوړښت بیان کړو . دا نور خو ټول له اوله په زیاتو کتابو کښې هم ذکر شوي دي او اولسي

خلګو ته هم تقريباً معلوم دي .خو موږ به دلته صرف دغه ټپيځه او کاکړيځه چې له ټېرو څو کلونو رواج شوې ده چې د اولسي ادب برخه ګڼلای شو لږ په تفصيل سره بيان کړو .

**ټپيځه**: ټپيځه د پښتو اولسي ادب يو نوی صنف دی چې د ټپې په بحر او وزن کښې جوړيږي بلکې له ټپې څخه وتلی دی . خو فرق يې دا دی ټپه دوې مصرۍ او ټپيځه پنځه مصرۍ لري . په دې کښې اولې څلور مصرۍ يې د ټپې له اولي مصرۍ سره هم وزنه، هم قافيه او هم سيلابه وي او آخيرنۍ پنځمه مصرۍ يې د ټپې له دويمې يا اخري مصرۍ سره هم وزنه،هم قافيه او هم سيلابه وي .يو بل فرق يې له ټپې سره دا دی چې ټپه شاعر يا ليکوال نه لري د عامو خلګو ملکيت وي خو ټپيځه شاعر يا ليکوال لري . د مثال په توګه به يوه ټپيځه رااخلو بېلګه.

"د نيمې شپې درپورته نه شوم
له اند ېښــنې درپورته نه شـوم
حق به بخښې درپورته نه شوم
په سفر تلــې درپورته نه شـوم
ما دي خدای شله کړي په دواړو زنګنونو"(۶)

که څه هم د ټپې په پرمختګ کښې د پښتنو عمومي کليوال کلتور او ژواک مهم رول درلود، خو په اوسنيو کښې ټولنيو رسنيو او جديد سندر غاړواو شاعرانو په مرسته ټپه ايزو زيات رواج او رجحان موندلی دی. د بېلګې په توګه لاندي ټپه ايزي موږ د هارون باچا په يوه جاري شوي آن لاين ټرېک دی چي لاندينۍ ټپه ايزو يې ډير زيات شهرت موندلی دی.

دا خو هم ستا د يارۍ ټس دې
چي مي ژوند ژواک هسي تس نس دې
راباندي کړې دي خپل وس دې
ظالمه دا ظلم دي بس دې
چي يو دي خوار کړم بل دي ورک دي ملکه کړمه (۷)

په دې ټپه ايزه کښې که موږ و ګورو اوله او وروستۍ مصرعه يې د يوې ټپې دي، په مينځ کښې درې مصرعې يې نوی تخليق دی، په زړه پوري خبره دا ده چي دلته دغه نوی او زوړ، يا د اجتماعي او انفرادي تخليق تر مينځ يو مخلوط نسبت په وجود کښې راغلی دی. د بېلګې په توګه دوئيمه او دريمه مصرعه کښې تصنوع يا بناوټ بيخي زيات دی، خوڅلورمي مصرعې بيا ډير په زړه پوري او د وروستيي مصرعې سره يې يو فطري ترون جوړ کړی دی.

مرور ياره را پخولا شه
د ميني درد ته مي دوا شه

د بې سحره شپو رڼا شه
یو ځلي بیا پر دې لار راشه
پر پخوانو پلونو دي پرېوتل ګرځونه (۸)

په لوړه ټپه ایزه کښې که موږ و ګورو نو اولي درې مصرې له سره نوي دي، یعني دا چې دا د یوه شاعر چې له موږ سره یې حواله نسته تخلیق دي، او بیا یې په ډېر هنر سره د یوې لرغوني او په اولس کښې له ډېره وخته موجودي ټپې سره داسي تړلي دي چې په موسیقۍ کښې یې د ټپې وئیلو خوند ډېر سېوا کړی دی.

**کاکړېځه**:

کاکړېځه هم نن سبا د اولسي شاعرانو له خوا جوړېږي چې سیمه ایز سندرغاړي یې له موسیقۍ سره وايي . خورا خوږلت او شعریت لري . دا مکمل د کاکړۍ غاړي په سیلاب او بحر کښې جوړېږي خو توپیر یې دا دی چې غاړه دوې مصرۍ لري او دواړه هم قافیه وي او هم سیلابه وي (خو سیوا له ماتې غاړي او اوه-اته سیلابیځي غاړي). دلته کاکړېځه د هم قافیې او هم سیلابه غاړي څخه ماخذ شوې ده چې ټولې څلور مصرې لري او ټولې هم قافیه او هم سیلابه وي . د بېلګې په توګه:

"ادې زه د مزلونه یم
د ګوډي د راوړو نه یم
د اوُر د بلـېدو نه یم
د ستنې د کارو نه یم"(۹)

په دې پورتنیو څلورو مصرعو کښې کومې چې امین شباب په خپل یوه تړېک کښې وئیلي دي موږ ته هیڅ اندازه نه کیږي چې اورجنل غاړۀ کومه یوه ده او په دې کښې د قاوس مهال شاعر خپله لاسي کارروائي کومه کړې ده، هیڅ اندازه ني کیږي.

پارون غی جکه جوړه وه
نرۍ تللګي اوبو له وه
مالبانګه یې هم له کوره وه
نن بیا ځله نا جوړه وه (۱۰)

په دغۀ پورتنی کاکړېځه کښې هم دا نه ده څرنده چې اصل غاړه کومه یوه ده او هغه د یوه شاعر انفرادي زیاتونه کومه یوه ده. بله خبره دا هم ده چې دلته موږ ته د شعریت سره سره په غاړه کښې موجود تهیم یا موضوع هم په نظر نه راځي. چونکه هره غاړۀ د یوه خاص واقعې او کردارونو سره علاقه لري، او داسي غاړي چې یواځي د شاعرانه ضرورت لپاره جوړې شوي وي، ښېخي کمې دي. ځکه د اولسي اجتماعي تخلیق او انفرادي تخلیق دغه امتزاج یا ګډون ډېر زړه راښکونکی نه

ښکاري. که په دې حقله څه نوره هڅه وشي کيدی شي چي د ټپه ايزو غوندي کاکړېځي هم خپل ځان د پښتو په شفاهي روايت کښې ټېنګ کړي.

د امين شباب يوه کاکړېځه په لانديني ډول ده.

جانانه لما زړه يوسه
در پرې يې که زما خله يوسه
په کست کې د کاله يوسه
بې چورته سه خواړه يوسه (۱۱)

د دې کاکړېځي کښې هم هغۀ ستونزه ده کومه چي موږ لوړ و لوستله، يعني دا چي د پېغام تر حده خو خبره سمه ده، خو د شعريت ستونځه بيا هم شتون لري، دربېمه مصرعه يې ډېره معيوبه او د شعري حسن څخه خلاصه ده، او وروستۍ مصرعه يې هم کمزورې ده.

کيدی شي چي کومي کاکړېځي دلته موږ بحث کړې هغۀ ډېر جالبه نه وي، او ځيني نوري معياري کاکړېځې وي او د تخليق دغه نوې لړۍ نوره هم پر مخ ولاړۀ شي.

**پايله** :د پښتو فوکلوري شاعرۍ ډېر صنفونو داسي دي چي د وخت سره سره له منځه تللي دي، ځيني صنفونه داسي ۇ چي د مخصؤص کلتوري عمل يا معاشي سرګرمۍ سره به يې تعلق درلود ، کله چي هغه عمل ودرېدی نو د فوکلور هم هغه صنف له منځه ولاړ شي. کله چي موږ د پښتو فوکلوري صنفونو ډلبندي کوو نو موږ دې خبري ته اړ وځو چي اوس لا هم ډېر داسي صنفونه شته چي زموږ د فوکلور په مجموعي او ګډه پانګه کښې نه دي شمېرل شوي. پر کومو اصولونو چي د دې صنفونو ډلبندي يا ګروهي ويش سوی دی هغه ته په بشپړۀ توګه يو ځل بيا کتل پکار دی.

د فوکلوري صنفونو په دې ګڼه ګوڼه کښې ځني داسي صنفونه دي چي خپل وجود ته يې دوام ور بخښلی دی. په اوسنيو کښې ټپه او کاکړۍ غاړه دوه داسي صنفونه دي چي خپله بقا او پر مختګ يې جاري ساتلی دی.د ټپه ايز او غاړيز مخلوط صنفونه بائيد چي د اولسي شاعرۍ په ډلبندي کښې خپل ځانګړی ځای ورکړل شي.

## حوالې

١. خاوري،غوټۍ،د پښتو شفاهي ادبيات،دولتي مطبوعه د علوموااکاډمۍ کابل،کال١٣۶۶ش.مخ٨
٢.همدغه،مخ۶
٣. وفا ،محمد ،داؤد ،فولکلورپېژندنې لارښود ،ختیځ اکاډمي ننګرهار ،لومړی
چاپ،کال٢٠١٣م.مخ(ا-ب)
۴.همدغه ،مخ٣۵
۵. همدغه ،مخ .١٣٢
۶. سرشار ،رحمت، سندرغاړی
٧. باچا، هوارون ، سندر غاړی ، ټريک ټپه ايز ٢٠١٩
٨.هم دغه،
٩. شباب، امين ، نوی ټريک "کاکړېځي" ٢٠١٨
١٠. هم دغه
١١.هم دغه